بسم الله الرحمن الرحيم

## ایا دا حقیقت دی چې د کورونا وېروس په ګډون د ډېرو نورو ناروغیو لپاره درمل نشته؟!

**(ژباړه)**

په تېرو مقالو کې مې لیکلي وو: ټولو نړیوالو نظامونو خپله ناکامي د ځمکې پر مخ په تر ټولو کوچني مخلوق ورټوله کړې او بشر یې د مرګ په کنده کې یوازې پرېښی دی، چې دا د خپګان وړ خبر بلل کېږي. له علمي، روغتیایي او اسلامي پلوه دا څرګنده شوې چې د هرې ناروغۍ درملنه شته ده. رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل:

**«لِكُلِّ دَاءٍ دَوَاءٌ فَإِذَا أُصِيبَ دَوَاءُ الدَّاءِ بَرَأَ بِإِذْنِ اللَّهِ عَزَّوَجَلَّ»**

[رواه مسلم]

***ژباړه****: د هرې ناروغۍ لپاره درمل شته او هر کله چې هغه درمل ناروغ ته ورکول شي، د الله سبحانه وتعالی په مرسته به روغ شي.*

هغه فاسدې علمي او روغتیایي طریقې چې په نړۍ کې د روغتیایي بنسټونو په مرسته کارول کېږي، یوازې د مادي ګټې پر بنسټ دي او د هغه پر اساس کنټرولېږي. نو هېڅ داسې درمل به نه وي، چې خلکو ته له ګډوډۍ (Complications) پرته ګټه ورسوي. هغه درمل چې د داسې موسیسو له خوا جوړېږي، کارول یې جانبي عوارض لري. د بېلګې په توګه: د شکر (دیابت) او یا د وینې د فشار (BP)، ناروغۍ لپاره درمل د جانبي عوارضو او یا لېونتوب لامل کېږي. په داسې بڼه چې ناروغ اړ کېږي، څو خپلې پیسې د لوړو بیو درملو ته ځانګړې کړي. نو دغه امر د دې لامل کېږي چې له ناروغانو څخه تلپاتې پېرېدونکي جوړ کړي او همدارنګه له ناروغانو سره انساني چلند نه کېږي؛ بلکې له هغوی سره د «عذاب شیطانانو» غوندې چلند کېږي.

په دې لیکنه کې غواړم پر هغو روغتیایي تګلارو تمرکز وکړم، چې د اوسمهال روغتیاپالان یې په ناروغانو کاروي. دا تګلارې د دې پر ځای چې د ناروغانو لپاره ګټورې وي او د درد ورکېدو لامل یې شي، په اصل کې د هغوی د روغتیایي بنسټونو د مادي ګټو پر اساس ولاړې دي. ډاکتران اړ دي چې د درملنې په پروتکلونو ( treatment protocols) د دولت د دستورالعملونو او قوانینو پر اساس چلند وکړي. دولتونه، روغتیا وزارتونه او د صحي بیمې شرکتونه باید په روغتیایي برخه کې د کېپېټلېستو پانګوالو پر لایحه جوړونه ور وتپل شي.

د بېلګې په توګه، ډاکتر د شکر ناروغ ته د يو ښه ګټور غذايي رژيم په اړه د خپلو قوانينو په عامه پوهاوي سره د ناروغ درملنې ته دوام ورکوي. ټول پوهېږي چې شکر يا ډيابت د ۲(NIDDM) له ډول څخه دی او په وينه کې د شکر په لوړې کچې سره شتون لري. سليم عقل وايي، د بورې له خوړلو ډډه او د کاربوهايدرټي خوړو کم کارول لکه وريجې او د غنمو ډوډۍ ناروغ ته دا وړتيا ورکوي چې په وينه کې د شکر کچه کنټرول کړي او په همدغه ډول پانقراس(Pancreas) حجرې بياځلي ورغول شي. د کاربوهايدرات کم غذايي رژيم او له شکر پرته (Sugar-free)، چې د «کتوژنيک» په رژيم سره مشهور دی، ثابته شوې چې د 2 (NIDDM) ډوله شکر درملنې لپاره بريالی او غوره دی. که څه هم د روغتيايي موسيسو له خوا په وينه کې شکر د ټيټې کچې نارمل ساتلو لپاره د طبيعي ترکيبونو، کورکمند، د زيتون پاڼې او د اوړې ګټور رول د زړه ناروغانو لپاره نه ذکر کېږي. پر دې سربېره، چې ډاکتران پر دغو واقعيتونو ښه خبر دي، خو ياد موارد د درملنې د يوې تکيې په توګه د درملنو د څېړنو لپاره نه کاروي. (سرچينه: https://www.youtube.com/watch?v=Eanu7OnUPx0)

روغتيايي سکټور په نړۍ کې پر تر ټولو ګټور سکټور او برخې بدل شوی. د درمل جوړولو روغتيايي شرکتونه او روغتونونه اوسمهال تر ټولو بډايه بنسټونه بلل کېږي او په يادو سکټورنو کې پانګونه له نورو سکټورنو په امن کې بلل کېږي. نو په ټولنه کې بډايه، شتمن، د عزت او قدرت څښتن خلک د همدغه سکټور پانګوال او ډاکتران دي. په دغو سکټورونو کې د پانګوال او کارګر ګډه وجه له حرص، د مال طمعه او ناروغ ته له ګټې رسېدو بې خبري او غفلت دی. له هغو کسانو پرته چې الله سبحانه وتعالی رحمت پرې کړی او دا ډول خلک ډېر لږ دي. لاحول ولا قوة إلا بالله! د دغه فساد پر ځای  هغوی بايد په تر ټولو غوره طريقه او کم لګښت د هغوی درملنه کړې وای. د دې لپاره چې په دې برخه او سکټور نيوکه ناعادلانه ترسترګو نه شي، زه دوې څرګندې بېلګې وړاندې کوم. دواړې بېلګې د درملو په دوو ترکيبونو پورې اړه لري، چې د ډېرو ناروغيو د درملنې لپاره ترې ګټه اخيستل کېږي. اوس دغه درمل په ډېرې اسانۍ تر لاسه کېږي:

لومړی کلورين ډای اکسايډ(Chlorine dioxide) (https://en.m.wikipedia.org/wiki/Sodium_chlorite)

کلورين ډای اکسايډ (Cl02) د اسټريل يا ضد عفوني کوونکي  (sterilizer) په توګه ګټه ترې اخيستل کېږي. دا هغه باکټرياوې (bacteria)، قارچونه (Fungus) او انګلونه (Parasites) له منځه وړي. کلورين ډای اکسايډ يوه ضد عفوني کوونکې (disinfectant and sterilizer) ماده ده، چې د جراحۍ د وسايلو ضد عفوني کولو لپاره تر عملياتو وړاندې کارول کېږي. همدارنګه د درملو په توليد کې د اسټريل په توګه او د خوراکي توکو او غوښو په بسته بندۍ کې ترې ګټه اخيستل کېږي. دا ماده د ناروغيو زېږونکي يا پتوجنونه، چې د انتاني ناروغيو لامل کېږي، له منځه وړي. نوټ: اسټريل (sterilization) داسې فرايند دی چې مايکرو ارګانيسمونه او د هغه لېږدونکي عوامل لکه قارچ، باکتريا او ويروس د جسمونو له سطحې څخه له منځه وړي.

دغه کیمیاوي ماده د اوکسېډ کوونکو (Oxidizing Agents) درملو له ډلې څخه بلل کېږي، چې مرکبونه په حجري دېوال کې دننه اوکسېډ (oxidize) کوي. همدغه امر د ناروغیو زېږوونکو میکروبونو د وژل کېدو لامل کېږي. د دې مادې خاصیت په هر حالت کې وي، د روغ بدن پر نارملو حجرو اغېز نه کوي؛ په داسې بڼه چې مالیکولونه یې ډېر ژر نه ماتېږي. پر دې سربېره، هغوی تر میکروبونو ډېر د اوکسیداسیون پر وړاندې د مقاومت وړتیا لري. له بل لوري، د بدن نارمل حجرې او یا سلول د ساتنې، بیا رغونې (regeneration) او ترمیم خاصیت هم لري.

دا ماده په اوبو کې محلول ده او دغه امر د دې لامل کېږي، چې په لنډ وخت یعنې له نیم ساعته بیا تر دوو ساعتونو پورې په بدن کې همداسې پاتې شي. البته یاد خاصیت د درملو (Dosage) په کارولو پورې اړه لري. د زماني پړاو تر پای ته رسېدو وروسته دغه ماده په بدن کې بې اغېزې کېږي. نو دغه درمل د ناعلاجه ناروغیو (terminal Diseases) لپاره باید په ورځ کې څو ځکله وکارول شي.

یاده ماده د اړتیا وړ غلظت په درلودو سره د وېروسونو ډېری ډولونه لکه انفلوانزا او د کورونا وېروس له منځه وړي. د الله سبحانه وتعالی په مرسته. د ناروغیو درملنه به د الله سبحانه وتعالی په مرسته وشي، په دې شرط چې دغه دارو د ناروغۍ د نښو تر ښکارېدو وړاندې وکارول شي. که دغه درمل د ناروغۍ د نښو تر ښکارېدو وروسته وکارول شي، په دغه صورت کې بدن وړاندې تر دې چې د وېروس له منځه وړلو ته پام وکړي، نو ډېر وخت به ونیسي، څو د وېروس زیانونه ورغوي او ګټه ورته ورسوي.

همدارنګه دا ماده باید له کړنلارې سره سمه برابره شي، ځکه د اتاق په تودوخه کې د ګاز حالت لري. په داسې حال کې چې محلول یې تر چمتو کېدو وروسته تبخیرېږي او د نور په واسطه د تجزیې وړ وي. د یو اوکسېډه کوونکي په توګه (Oxidizer)، دا ماده باید د انتي اوکسېډانونو تر مصرف وروسته لکه ویټامین سي (Vit C) وکارول شي؛ ځکه انتي اوکسېډانونه په بدن کې د دې مادې فعالیتونه شنډوي. نوټ: اوکسېډ کول د زهري کولو مانا لري او انتي اوکسېډان د زهرو پاکولو په مانا دی.

کلورین ډای اکساید له سودیم کلوراید څخه چې د سودیم کلوراید غلظت ٪۲۷ دی، د ٪۵۰ غلظت لرونکي اسید استیک یا له ٪۴ غلظت لرونکي اسید هایدروکلوریک سره برابرېږي. د محلولونو تر چمتو کېدو وروسته هغوی په مساوي نسبت سره اضافه کېږي. په پیل کې په یوه وچه پیاله کې د سودیم کلوراید څاڅکي اچول کېږي او وروسته ټاکلې اندازه اسید وراچول کېږي. همدارنګه تر دغه پړاو وروسته محلول ته د یوې یا دوو دقیقو په اندازه ټکان ورکول کېږي. وروسته له انتي اوکسېډانونو پرته یوه کوچینۍ پیاله اوبه یا وراچول کېږي او تر دې وروسته د شافي (شفا ورکوونکي) الله په نامه سره څښل کېږي.

هر کله چې پر وېروس د اخته کېدو گواښ وي، له کورونا وېروس څخه د مخنیوي لپاره کولی شو ۵-۱۰ څاڅکې په ورځ کې یو یا دوه ځلې وخورو. که پر دې وېروس د اخته کېدو لږ خطر هم وي، نو د نښو او علایمو تر ښکاره کېدو وړاندې دې وڅښل شي. محلول په همغه خاصیت سره دا وړتیا لري چې په هر وخت کې د هر ډول سطحې د پاکولو لپاره ترې گټه واخیستله شي.

د ناروغۍ د ډول پر اساس یې د تجویز اندازه توپیر کوي. د بېلگې په توگه، که ناروغي سرطان وي، په ورځ کې دې له ۸-۱۰ ساعتونو پورې له ۱-۳ څاڅکو په سرعت سره له هرو دوو محلولونو څخه په هر ساعت کې تجویز کېږي. په وینه کې تر ډېره پاتې کېږي، څو زموږ بدن د ډېر شمېر سرطاني سلولونو له شر څخه وژغورل شي. په دې ناروغۍ کې موږ باید پر گټور غذایي رژیم، چې قند او بوره نه وي پکې، تمرکز وکړو. د دې مادې د وړتیا په اړه د ډېرې مطالعې لپاره او دا چې څرنگه مصرف شي، ډېرې ویبپاڼې دي، چې دلته یې یادونه کولی شو او تاسوهم په دغو ویبپاڼو کې په دې اړه ډېر معلومات پیدا کولی شئ. (https://www.mmsdrops.com/mms-protocols/protocol-1000-plus)

**دویم ـ ډی متیل سولفواکسید** (DMSO)

دغه ماده د درماني ځانگړنو په درلودو سره د «اسامعجزې» مادې په توگه پېژندل کېږي. دغه ماده گوگردي (Organic Sulfur) ترکیب دی او تر دې وړاندې یوازې د یو صنعتي محلل په توگه (industrial solvent) ترې گټه اخیستل کېده. همدارنگه دغه ماده د سخت درد کمولو، سوځېدنې (Burns)، جوداني (Acne) د وینې ټینگېدو مخنیوي (Clotting)، مغزي سکتې (Strokes)، د بدن د عضلو د کشش (Muscle Sprain) او نورو ناروغیو لپاره ډېره گټوره ده. د دې مادې د نورو گټو تر لاسه کولو لپاره لاندې څېړنې کتلی شئ: ((http://www.alaalsayid.com/ebooks/DMSO_AR.pdf)

یادې دوې مادې په نړۍ کې د روغتیایي فساد نښې دي. یاد درمل اوسمهال د درماني توکو په توگه په پراخ ډول نه کارول کېږي؛ که څه هم ډاکټران یې پر درماني وړتیاوو خبر دي. که د ډي ام اس (DMSO) په اړه خبرې وکړو، د مجبوریت په وخت کې یې ډېر شو او بې شمېره کسانو گټه ترې اخیسته. دې مادې د امریکا روغتیایي چارواکي (FDA) هم حیران کړل، چې د درماني توکو په توگه یې د ځینو ناروغانو لپاره تایید کړل. البته د دغه تایید یو کال کېږي.

یادې دوې مادې د ډېرو ناروغیو لپاره گټور درمل شمېرل کېږي، په داسې حال کې چې ډېر ارزانه او د لاس رسي وړ دي. ډاکتران او روغتیایي موسیسې د روغتیا په برخه کې د کپټلېستو پانگوالو د کنټرول لپاره د درماني مادې په توگه هغه نه شي تاییدولی. ځکه کارول به یې د درملو په سکټور کې له گټو سره په ټکر کې

شي، چې دغه سکټورونه د زيان رسوونکو درملو د توليد هڅې کوي او ياد امر د دې لامل کېږي چې په ډېره کچه د ناروغانو پيسې غلا شي.

اوس ډېرى کسان د روغتيا د نړيوال سيستم د فساد په واقعيت پوه شوي دي او خلک د دغو زيان رسوونکو درملو پر ځاى د نورو ګټورو درملو هڅې کوي. دغه درمل د درملنې لپاره واقعي دي، چې د بدن د ايمني سيستم په تقويې سره نه يوازې دا چې د ناروغيو د نښو درملنه کوي، بلکې د ناروغۍ اصلي لامل هم له منځه وړي؛ همداسې لکه غربي پېژندل شوى طب يې چې ترسره کوي. که غرب د اسلامي طب د علم پيروي کړې واى، د درملنې نظريو ته په کتو، د هغوى اوسنى پرمختګ به د الله سبحانه وتعالى پر تر ټولو کوچنې مخلوق لکه کورونا وېروس سره نه کمزورى کېده. اوس هم غربيان د ابن سينا، رازي، فارابي او ډېرو نورو اسلامي علماوو کتابونه ګوري، خو يوازې دومره ګټه ترې اخلي، چې د حريصو پانګوالو فايده پکې وي او بس.

نو پر همدغه بنسټ، د غربي تمدن پر وړاندې د بشريت د قيام زرګونه دليلونه شته او هغه څه چې موږ راوېښوي، د هغوى فاسد علوم او روغتيايي تجربې دي. دغه فاسد سيستمونه او نظمونه به د بشري دولتونو په واسطه او د حزبونو په هڅو سره اصلاح نه شي، بلکې د دغه نظام د بدلون يوازينۍ لاره د نبوت پر تګلاره د راشده ثاني خلافت بيا تاسيس دى. خلافت دولت له کوم امتياز او منتې پرته يوازې د الله سبحانه وتعالى د رضا لپاره له خلکو ساتنه کوي. خلافت دولت به له هغو علومو او ټکنالوژۍ څخه ګټه واخلي چې بشريت رامنځته کړې. هغه دعوت کوونکي پرېږدئ چې د داسې خلافت دولت د تاسيس لپاره فعاليت کوي.

**د حزب التحرير مرکزي مطبوعاتي دفتر لپاره**

**بلال مهاجر - پاکستان**

**ژباړه: بهير «وياړ»**